**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د عبادت مفهوم**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ»ژباړه:« الله هم زما رب دی او هم ستاسي؛ له دې امله تاسي د هماغه بندګي غوره کړئ، همدا سمه سیخه لار ده.»**او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی فرمایي: یقینا زه ددي لپاره را لیږل شوی یم چې نیک اخلاق بشپړ کړم، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

یقینا د عبادت لپاره اوچت ځاي او لوړه مرتبه ده دا یو لوي مقصد دی چې الله جل جلاله خلک ددی لپاره پیدا کړي دي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ}» ژباړه:« ما پیریان او انسانان له دې پرته چي زما بندګي وکړي د بل څه کار لپاره ندي پیدا کړي»او بیا فرمایي:« وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلا أَنَا فَاعْبُدُونِ » ژباړه:« موږ چي ستا څخه مخکي هر پیغمبر لیږلی دی، هغه ته مو همدغه وحيي کړېده، چي زما څخه پرته بل خدای نشته، نو تاسي همدا زما بندګي وکړئ.»دا د انسان وظیفه ده چې باید په ټول ژوند کې ترسره کړي حسن بصري رحمه الله فرمایی: الله جل جلاله د مومن عمل لپاره تر هغه نیټه نده ایښي ترڅو چې مړ نشي.

په اسلامي شریعت کې که څوک فکر وکړي نو وبه ګوري چې د عبادت مفهوم لپاره دوه معناګاني دي لومړۍ عامه او  پراخه معني چې د خیر ټولو کارونوته شاملیږي لکه د رزق غوښتنه، ښه اخلاق په خبرو کې ریښتینولي د خطاکار سړي ته عفو کول د خلکو ترمنځ اصلاح راوستل او په کورني باندي مصرف کول او ددی ترڅنګ نور د خیر او ښیګڼي کارونه لکه چې الله جل جلاله فرمایي: « لَا خَيْرَ فِى كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ ٱلنَّاسِ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ٱبْتِغَاءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا » ژباړ:« د خلکو په پټو مجلسونو کښي زیاتره څه ښېګڼه نه وي. هو، که څوك په پټه توګه د صدقې او خیرات لارښوونه وکړي یا د کوم ښه کار لپاره یا د خلکو په چارو کښي د اصلاح کولو لپاره چا ته څه ووایي، نو البته دا ښه خبره ده، او څوك چې د الله د خوشحالولو په خاطر داسي وکړي، هغه ته به موږ لوی ثواب ور په برخه کړو»

همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې ډيری کارونه چې خلک ترسره کوي صدقه دي هر د دوو کسانو ترمنځ عدالت کول صدقه ده يو چا سره مرسته کول ترڅو خپلي سوارلی ته وخيږی صدقه ده يا د يو چا سره يو څه سامان جيګول او ښه خبره کول صدقه ده هرګام چې د لمانځه لپاره اخلي دا صدقه ده زيانمن شئ چې د لاري څخه لری کوي دا صدقه ده.

همدارنګه د ځمکي آبادول د زراعت کرکيلي صناعت او د کار په ترڅ کې چې ګټه يې ټولی ټولني ته ورسيږي دا هم په عبادت کې ګرځول کيږي او دا هم خپله د هيواد د ترقی او د پرمختګ لامل کيږي د هغو عبادتونو څخه چې الله جل جلاله خوښوي او الله جل جلاله د انسان څخه غوښتنه کړی چې بايد ترسره کړي دغه ټول پکي راځي لکه چي الله جل جلاله فرمايي:« هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا» ژباړه:« هماغه ذات دی چي تاسي يې له ځمکي څخه پيدا کړي ياست او دلته يې تاسي مېشته کړي ياست.»، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چي په خلکو کې الله ته ډير محبوب هغه څوک دی چې خلکو ته ډير ښيګڼه ورسوي او په کارونو کې ښه کار الله جل جلاله ته هغه دي چې په ترڅ کې بل مسلمان ته خوښي ورپه برخه کړي او د هغه څخه سختي لري کړي او يا د هغه قرض ادا کړی او يا د هغه څخه لوږه لري کړي او يا دا چې خپل ورور سره ولاړ شي ترڅو د هغه اړتيا پوره کړي دا لدي څخه ښه دی چې په جومات کې اعتکاف وکړی او د مديني په جومات کې يو مياشت کيني نو څوک چې د خپل ورور سره ولاړ شي ترڅو د هغه اړتيا پوره کړي نو الله به د هغه اړتياوي پوره کړي او الله جل جلاله به د هغه قدمونه ثابت وساتي په هغه ورځ باندي چې قدمونه به زايله کيږي.

دوهم: خاص عبادت چې ددی خاص مفهوم باندي راواخلي چې پدي کې بيا د اسلام شعائر راځي او د هغه ارکان ادا کول راځي چې پدي کي لمونځ زکات روژه او حج دي الله جل جلاله فرمايي:« حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّـهِ قَانِتِينَ» ژباړه:« د خپلو لمونځونو ساتنه وکړئ، په تېره بيا د مازديګر د لمانځه، او د الله په وړاندې داسې په وېره او ادب ودرېږئ، لکه چي فرمان منونکی غلام درېږي.»او بيا فرمايي:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ» ژباړه:« اې مؤمنانو! پر تاسي روژې فرض کړای شوې، لکه چي ستاسي څخه د مخکني پېغمبرانو پر پيروانو فرض کړای شوي وې، ددې لپاره چي په تاسي کي د پرهېزګارۍ صفت پيدا شي.» او بيافرمايي:« وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللَّهِ» ژباړه:« لمونځ آداء کړئ، زکات ورکړئ. تاسي چي د خپل

عاقبت له پاره ښه نیکۍ سرته ورسوئ، وړاندي یې ولیږئ. د الله په وړاندي به هغه موجودې ومومئ.»او بیا فرمایي:« وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ الله غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ» ژباړه:« پر خلکو د الله دا حق (فرض) دی چي که څوك هغه کور ته درسېدو وس ولري، د هغه حج دي وکړي؛ او که څوك ددې فرمان له عملي کولو څخه انکار وکړي، نو هغه دي په دې پوه وي چي الله له ټولو نړیوالو څخه بې نیازه دی».

***

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

مونږ پدي باندي ټینګار کوو چې برابر شخصیت هغه څوک دی چې د الله جل جلاله د فرایضو تر منځ چې پدي کې لمونځ روژه زکات او حج راځي او د ځمکې د آبادي ترمنځ توازن او برابري راولي او همدارنګه نیک اخلاق په ځان کې راولي.

همدارنګه مونږ ټینګار کوو چې عبادت په خاصه معني سره تر هغه ګټه نشي راوستلي ترڅو چې انسان په اخلاقو باندی اغیزه نوي کړي او د انسان سولوکیات یی نه وي بدل کړي لکه چې الله جل جلاله فرمایی:« إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الفَحْشَاءِ وَالمُنْكَرِ» ژباړه:« په باوري ډول لمونځ له بدلمنۍ او ناوړو چارو څخه منع کوي» همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي که یو څوک به تاسو کې روژه نیسي نو هغه د بد رد نه وایی او که چا ورته بد رد وویلي او ورسره یی جګړه کوله نوهغه د ووایی چې ما روژه نیولي ده همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې زه ددي لپاره رالیږل شوي یم چې ترڅو خه اخلاق بشپړ کړم نو همدي لپاره خه اخلاق ډیر مهم دي څوک چې په اخلاقو کې زیادت راولي او خه اخلاق په ځان کې راولي نو د هغه په دین باندي پوهه هم زیاتیږي.

**الله د مونږ سره مرسته وکړی ترڅو د هغه ذکر وکړو او د هغه شکر ادا کړو او د هغه عبادت په خه ډول سرته ورسوو.**